محمد معصوم هوتک / مختصات افغانستان، بخش: نخبگان و مشاهیر تاریخ ۲۰۲۰/۱۰/۱۴

# د اکاډمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد پېژندنه



اکایمیسن پوهاند عبدالشکور رشاد د افغانستان او سیمي په سطحه کي ستر محقق، وتلی ادیب، منلی ژبپوه ، پیاوړی استاد او خوږ ژبی شاعر وو چي د ۱۳۰۰ هـ ش کال د عقرب پر ۲۳مه = د ۱۹۲۱ع کال د نومبر ۱۴مه د کندهار ښار د بابړو په کوڅه کي زېږېدلی وو. پلار ئي عبدالغفور خان نومېدی او علم دوسته او مخور سړی وو. په پارسي، عربي، اردو او انګرېزي ژبو پوهېدی. نیکه ئي حاجي محمد ایاز خان د خپل وخت مشهور سوداګر وو. د دوی کورنی د لوی احمد شاه بابا د پاچهي په کلونو کي پېژندل سوي او شتمنه کورنی وه. د احمد شاهي عصر مشهور شخصیت او د لوی احمد شاه بابا د لمسي شاه زمان سدوزي خسر امین الملک نورمحمد خان بابړ د همدې کورنی سړی وو.
پوهاند عبدالشکور رشاد لومړنی زده کړي له خپل دانشمند پلار څخه وکړې او تر هغه وروسته ښوونځي ته شامل او په ۱۹۳۳ع کي ځني فارغ سو. له ښوونځي څخه تر فارغېدو وروسته ئي سمدستي د ښوونکي په توګه رسمي دنده پیل کړه چي د سِن د لږوالي له امله به ئي" کوچنی ښوونکی" باله.
په ۱۹۴۶ ع کال د کندهار ښار د مشورتي تولني مشر او یو کال وروسته د کندهار د بلدیي ریاست ( ښاروالي) مرستیال وټاکل سو. کله چي د شاه محمود خان د صدارت پر مهال په هیواد کي دیموکراسي اعلان سوه او ګوندونه تشکیل سول، په کندهار کي د ویښ زلمیانو له ډېرو فعالوغړو څخه یو هم پوهاند رشاد وو چي د ملي شورا په انتخاباتو کي ئي د ویښ زلمیانو د نماینده په توګه برخه واخیستله خو په انتخاباتو کي د حکومت د مداخلي له امله بریالی نه سو.
تر ۱۹۴۷ع کال وروسته هندوستان ته ولاړ. هورې ئي هندي، اردو، سانسکریت او انګرېزي ژبي زده کړې او د پښتو د تاریخ په اړه ئي ژور تحقیقات سر ته ورسول . هیواد ته تر راتګ وروسته په ۱۹۵۷ع کال د پښتو تولني مسلکي غړی او پر څنګ ئي د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي د استاد په توګه مقرر سو. په همدې وخت کي ئي د پوهنتون د استادی پر څنګ د پښتو تولني د مسلکي مرستیالی دنده هم پر مخ وړله. په دغه وخت کي د پښتو تولني د ریاست وظیفه د اردوابناد ګل پاچا الفت پر غاړه وه.
په ۱۹۶۱ع کال د پخواني شوروي اتحاد د لنینګراد ( اوسنی پیترزبورګ) ښار د ختیځ پېژندني په انستیتوت کي د پښتو څانګي د استاد په توګه مقرر سو او دوه نیم کاله ئي دغه وظیفه مخ ته یووړه. په دغه وخت کي روسي ژبه زده کړه. هیواد ته تر بیرته راتګ وروسته ئي د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو ډیپارټمنټ کي د استاد او ددغه ډیپارټمنټ د مشر (شف) په توګه وظیفي ته دوام ورکړ. په ۱۹۷۴ع کال ئي د پوهاندی علمي رتبي ته ارتقا وکړه. دي دندي ته ئي د ۱۹۷۸ع کال د ثور تر کودتاه پوري دوام ورکړ او ددغي کودتاه په لومړیو میاشتو کي تقاعد ته سوق سو خو له پوهنتون او د علومو له اکاډیمی سره ئي علمي همکاري جاري وساتله. پوهاند رشاد ته په ۲۰۰۳ع کال په جلال آباد ښار کي دده په ویاړ ر جوړ سوي سیمینار په ترځ کي د" علامه" لقب ورکول سو.
پوهاند رشاد پر افغانستان باندي د روسي یرغل او اشغال په کلونو کي ئي د روسي اشغالګرانو پر ضد شعرونه په مستعارو نومونو د کلیفورنیا، ناروې، جرمني، اتریش، هند، پېښور او کراچي په افغاني نشراتو کي خپرول او د ژوند تر وروستی سلګی ئي د استبداد او بلواکی پر خلاف اشعار وویل.د علامه رشاد سیاسي افکار د هیوادپالني، ملتپالني او خپلواکی غوښتني پر بنسټ ولاړ وواو د تولنیزو ریفورمونو او ډیموکراسی په پلوي ئي هر وخت د منورینو خوا نیولې وه.
دده آثار او تحقیقات دده په ژوند کي لا پر افغانستان سربېره په هند، پاکستان او د منځنی آسیا په هیوادو کي لوستونکي درلودل او د سیمي او نړی په علمي تولنو کي پېژندل سوی افغان عالم وو.ده د خپل برکتناک ژوند په اوږدو کي په



به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید
تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند

سوونو شاگردان وروزل چي ځيني ئي اوس په نړيواله سطحه کي مطرح پوهان دي. دده د څېړنو په نتيجه کي د پښتو ادب ، ژبي او تاريخ خورا غامض او پرله پېچلي مسايل روښانه او حل سوي دي او پښتو ادب، ژبي او تاريخ ته ئي تر شپېتو زيات چاپي او تر اتيا زيات ناچاپ آثار پرېښوول.
علامه عبدالشکور رشاد د ۱۳۸۳ش کال د قوس پر يوولسمه د چارشنبي په ورځ د کابل ښار په څلور سوه بستريز روغتون کي وفات او په کندهار کي د پوهنتون په انګړ کي په درناوی سره خاورو ته وسپارل سو. پر مزار ئي ستره ګومبته ولاړه ده.


به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید
تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند